مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۳/۰۴

# مرده باد

یو خو د سرو زرو نه جوړ پردی قفس مرده باد
بل د غلام ژوند هره ساه هر یو نفس مرده باد

نور حریص نه یمه خو دغه قارونیت لرمه
ویم پخپل سیند مې د پردئ کونې اودس مرده باد

چې ڤُت ڤُت دلته کړي هګۍ وړي باداړانو کره
که یو وي مړ دي وي که لس وي هغه لس مرده باد

د خپل ورخاړي نه قربان شه د پردیو پیتزا
چې تش هوس باندې خرڅیږي هغه نس مرده باد

څوک چې د خپلو وربځو لاندې کړي د بل دلالي
بیا په ژوند نه ارزي باوره! هغه کس مرده باد



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ